| Literary - Cultural | ادبی - فرهنگی |
|---|---|


محمد امین بسمل


۲۴ فبروری ۲۰۱۳

## بلبلک

نن مې په کوګل کې زږه یوبل ډول درزاکوي
سکیپه کې جانان ګورم خوږه خوږه خنداکوي

ډېر یې دلیدو په تمه داخواالخواوځغاستم
شکرچې انلاین شوتودمجلس لکه پخواکوي

سم ورته کتلای نه شم نه چې په نظیریې کړم
ګوري په حیاحیاپه سترګوکې مسکاکوي

خدایه لایې زیات کړې برکت په ګلورین حسن
ستوري یې په مخ ناځي سپوږمۍ یې تماشاکوي

سترګې چې راواړوي دازړه مې دومره وغورځي
ته وابلبلک دی په ګلانوکې هواکوي

ناست یم له ګلرنګ سره جاموکې نه ځایږمه
وه خدایه چربانګ شواذانونه به ملا کوي

لمر راوخوت غواړمه رخصت ځم له جانان څخه
غرېو یمه نیولی پښې مې سستې شوې لړزاکوي

ای خالقه راولې بسمل چې بنه ډېرنازورکړم
ځوبه خواره کی په شوګیروکې واویلا کوي